# په پښتني فولکلور کښې پښتنې ارمان
# Pushtoon National Desires in Pukhtoon Folklore

Badrul Hakim Hakimzai

**Abstract**

It is an irrevocable fact that literature of a proper language is a crystal reflection of the same nation. It can be seen in Pakhto Literature and folklore as well. In this article it is strived to explore the psychology and collective derives of Pakhtoon nation in Pakhtoo folklore. It will be obviously help the researchers to mend their attention towards this aspect of Pakhto folklore.

پوهېږو چې انسان له غاره تر ښاره د خپل تمدني سفر ګڼ شمېر پړاؤنه تر شا پرېښي دي . دغه پرمختيايي يون ئې د لکونو او زرګونو کلونو په موده کښې تر ننې پر مختللې ټولنې را رسولےاو لا ئې پر مخ بيائي ـ د ژوند غزونې او سمبالوې د هلو ځلو په بهير کښې د ډېرو ستونزو او سختو پختو سره مخامخ شوے او خوښې ورځې شپې ئې هم ليدلي دي ـ د دغو راپېښو شوؤ ښو او بدو پېښو له لارې تر لاسه شوؤ تجربو، ليدنو او کتنو د دۀ علمي پانګه په وار وار فراخه کړې ده انسان د پېښو په عواملو او نتيجو غور کړے دے او د خپلې پوهې او وس سره سم ئې د ښوچارو د پرمختيا او د بدو پېښو دمخنيوي تابيا کړې ده ـ تر لاسه شوې پوهه ئې په خپلو کښې شريکه کړې ده او راتلونکو نسلونو ته ئې سپارلې ده ـ دغه شان دغه پوهه د ټول انساني ټبر شريکه ميراثه جوړه شوې ده ـ د پوهې دغه شريکې ميراثې ته اولسي پوهه يا فولکلور وئيلے شي ـ پوهان فولکلور په مادي، نيم مادي او غېر مادي برخو کښې ويشي ـ د پښتني فولکلور دنګه وداني هم له دغو خټو ګټو جوړه ده ـ په ادبي اصطلاح کښې فولکلور د يو قام د دود دستور، تهذيب و تمدن، نفسياتو، مزاج، فکرونو، عقيدو، ثقافت، رواياتو، اقتصاد، او ټولنيز چاپېر چل روښانه هنداره وي ـ د فولکلور د هر نوعې د زېږون نېټه په سمه توګه په ډاګه نۀ وي، هم دغه شان ئې زېږونکے هم ناپېژندلے وي ـ

غیر مادي فولکلور کښې نثرا او سندرې جوت توکي دي ـ د پښتو په ژبني ادب کښې د ماشومانو سندرې، د مېندو سندرې او د غم ښادۍ سندرې ډېر ارزښت لري ـ د دغو شفاهي یا ژبني سندرو په حقله وئیل کېږي :

د فولکلور پوهنې په کتابونو کښې ئې د شفاهي سندرو او توکیو ځانګړنې داسې ښوولې دي ـ

• هغه توکي او سندرې چې ئې ویونکي نۀ دي څرګند یا ئې یو چا ته نسبت نۀ کېږي.

• دا توکي لیکلي نۀ وي او په شفاهي ډول دخلقو تر مېنځ خوارۀ وي ـ دا ډول سندرې او توکي شفاهي یا فولکلوري سندرې یا توکي بللے کېږي ـ [1]

د ټولو فولکلوري توکي، بیا په تېره د شفاهي او سندریز ادب تر شا د یو قوم نفسیات، تجربې او ارمانونه په ډاګه لیدل کېږي ـ

"د فولکلور یوه کوټلې ساحه اوس په دې توګه حد بندي کېږي، چې هر هغه څۀ چې تر شا اساطیر او اساطیري عقاید اوفکار اولري ـ"[2]

د پښتو شفاهي ادب او په خاصه توګه د ماشومانو سندرې هم د خپل زېږون تر شا اساطیري، نفسیاتي او ټولنیز عوامل لري ـ دا د پښتنو د ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او پرمختیائي څېرې یوه روښانه هنداره او ننداره ګڼلے شو ـ د ماشومانو سندرې که په قافیه، بحر یا نورو فني ښېګړو نیمګړې ښکاري نو د پښتون قام د ارمانونو، کړاؤنو، او نفسیاتو را خوندي کولو کښې پاتې نۀ دي پاتې، لکه :

" د روښانیانو د تحریک نه خواوشا دوه پېړۍ اګاهو د پښتنو د تاریخ هغه هنګامه خیز دور شروع شوے وۀ، چې د یوسفزو او مغلو هډ ئې سره مات کړے وۀ ـ او سړبني قبائل د ښخي او غوري ټولې تپې او خېلونه ئې د کابل او غورد خواوشا نه د کونړ او اباسین تر مېنځه علاقې ته په هجرت او کډه کولو مجبور کړي وو ـ دا یو داسې پُر اشوب دور وۀ، چې د پښتنو یوه قبیله هم په کښې پوره په قلاره او په ارام په یو ځاے او مقام نۀ وه میشته ـ خو بیا هم د دوي ملي سندرې او شفاهي ادب، ټپې، نارې، غړونه، او غاړې د دوي د رزم بزم د ژوند ملګرې وې"[3]

د اړې ګړي په دغه دوره کښې یوه ناورینه د یوسفزۍ قبیلې سره هم شوه ـ یوسفزي د دیارلسمې میلادي پېړۍ په پاے او د څوارلسمې په پیل کښې له جنوبي افغانستان نه راغلل او په کابل کښې میشته شول ـ د خپل نفري ډېرښت له کبله ئې ډېر زور او ارزښت اوموند ـ په دغو ورځو شپو کښې د ابو سعید زوے کابل ته راغے ـ

"الغ بېګ ولد سلطان ابو سعید چې وړوکے هلک وۀ ـ له ډېر لږ شمېر مغلو سره له ما وراء النهر نه کابل ته راغے"[4]

ملک سلېمان شاه چې نۀ یواځې د یوسفزو بلکې د ټول خښني مشر وۀ ـ د الغ بېګ ئې په ډېره مینه پالنه اوکړه ـ هم د دغه ملک سلېمان شاه مندڼ یوسفزي په مرسته د کابل واکمن شو ـ وروسته د یوسفزو اومرزا الغ بېګ تر مېنځه ترېګني جوړه شوه ـ د الغ بېګ چارواکو په ډېره درغلی د یوسفزومشران ګرفتار کړل ـ

"وروسته ئې ټول یوسفزي لاس تړلي الغ بېګ ته وروستل ـ الغ بېګ پرته د ملک سلېمان شاه له یوه زلمي ورارۀ او پنځو تنو رانېي زو نه د یوسفزو ټول اووۀ سوه مشران اووژل ـ"[5]

یوسفزي ئې له کابله اوویستل او در په در ئې کړل. الفنسټن د دې ناوړه پېښې یادؤنه داسې کوي ـ

"د یوې خائنانه سولې په دوران کښې چې له هغو سره ئې کړې وه ـ د دوي د قوم ټول مشران وژلي وو ـ دۀ وکولے شول چې د دوي ټولې شتمنی لوټ کړي او له کابل نه ئې اوشړي ـ یوسفزي په ډېرو بد بختو وااوښتل او د پېښور د شا و خوا په لور روان شول ـ"[6]

دا پېښه د ۱۴۸۴ء تر ۱۴۹۰ء تر مېنځه موده کښې شوې ده ـ یوسفزو شړونکو ته د پېښور دله زاک واکمن د چارسدې دوآبه او نورې سیمې د استوګنې لپاره ورکړې ـ څۀ موده پس د سوات د بادشاه سلطان اویس سره د دوي زړۀ بداوے راغے او یوسفزو د سوات له بادشاه نه مردان، صوابی، بونېر، دیر، ملاکنډ او سوات ونیول ـ تر ۱۵۱۵ء پورې په سوات، مردان او نورو سیمو د یوسفزو د بشپړې واکمنی بېرغ ورپېد ـ

یوسفزي اوس د ښو او خوږو زمکو خاوندان شول خو د خپل پلارني وطن یعني د اوسني افغانستان یادونو د ارام خوب ته نۀ پرېښول ـ د کابل د لارو کوڅو او ګلورینو درو رنګین تصویر ئې له سترګو نۀ لوېدۀ ـ افغان خاوره ئې خپل لرغونے او اصلي ټاټوبے ګڼۀ او د تل لپاره د هغۀ پرېښول او هېرول ئې په هېڅ جوړ نۀ خوښول ـ د خپل لوئے کور واک ئې د مغل په لاس کښې زغملے نۀ شو. خود کابل مغلي بادشاه زورور اوظالم وۀ ـ د دوي لاس پرې نۀ رسېدۀ چې بېرته ترې خپل وطن واخلي ـ بې شکه چې :

"کله چې مونږ د پښتون قام تاریخ لولو، نو دا خبره په ښۀ شان سره جوتېږي، چې د پښتون ژوند د اړي ګړي او الغاؤ تلغاؤ نه ډک دے ـ دے که یو طرف ته د

شروع نه په خپلې خاورې مئېن اود سر و مال نه تېر دے ـ نو بل طرف ته د دين او مذهب مينه هم د دهٔ په خمير کښې اخلې شوې ده ـ دهٔ هر څهٔ زغملي دي او زغملے شي، خو خپل وطن او خاورې ته په بد نظر کتل يا په خپل دين او مذهب حمله کول نهٔ شي زغملے"[7]

يوسفزو د خپل روايت سره سم د خپل وطن د بېرته اخيستو ناريژيدلے ارمان د خپل نوي نسل سره وتاړهٔ ـ خپلو راتلونکو نسلونو ته ئې د ماشومانو د يوې سندرې په شکل کښې د خپل ارمان پوره کولو پاسلونه اوکړهٔ ـ سندره څهٔ داسې ده:

د ونې لاندې مار دے
د مار په خولهٔ کښې تار دے
تار زما په کار دے
نهٔ څښم د جبن اوبهٔ
خولهٔ به مې تڼاکې شي
کابل به رانه پاتې شي

د دې سندرې جوړښت ډېره زياته فني او معنوي ژورتيا لري ـ په سندره کښې په کار شوي ځينې ټکي ځکه څېړنې ته پامته دار دي، چې په کښې نغښتے پښتني ارمان پوره په مخامخ شي ـ

"د ونې لاندې مار دے" د فلسفې او مذهب له خوا ونې ته له پخوا نه په درانهٔ نظر کتل شوي دي ـ لکه حضرت آدم(ع) د ونې دا نه خوري او په دنيا خلافت جوړوي ـ حضرت نوح(ع) له ونې نه نجات بخښونکې کشتۍ جوړوي ـ جضرت موسیٰ(ع) ته له يوې ونې نه د نبوت سمبالولو غږ کېږي ـ حضرت عيسیٰ(ع) د ونې لاندې سترګې غړوي ـ ګوتم بدھ د ونې لاندې خپل روحاني غورځنګ اعلانوي ـ د حضرت محمد(ص) د معراج په سفر کښې د سدرة المنتهی يعنې د يوې ونې مقام او پړاو ذکر کېږي ـ ونه د سر سيوره هم ده او ګل مېوه هم ـ هم د دغه شا ليد ترمخه په دې سندره کښې ونه د وطن په معنو کښې راغلې ده ـ د کابل او افغانستان استعاره ده چې د پښتنو د عزت او ناموس د سر سيورے دے او د دوي له پاره لکه د ونې مقدس دے ـ مار تل دښمن ګڼل شوے دے ـ روايت دے چې مار او ښامار په خزانو کښېني ـ دلته د مار نه مغل الغ بېګ مراد دے ـ چې د ونې لاندې يعنې د کابل په تخت ناست دے ـ ``د مار په خولهٔ کښې تار دے" د تار نه مراد د واکمنۍ واګې او اختيار دے ـ چې د مار يعنې د زهر جن دښمن الغ بېګ په حکم او واک کښې دے ـ ``تار زما پکار دے" ددې جملې نه مطلب دا دے چې د کابل د تخت واګې او اختيار له ما سره يعنې د پښتنو

سره او بيا په تېره د يوسفزو سره پکار دے ـ ``نۀ ښبنم د جبڼ اوبۀ، خولۀ به مې تناکې شي" د جبڼ سيمه ددرګئ ملاکنډ تر ښنګه داسې ځاے پرته ده ـ چې د ټول يوسفزي وطن مېنځ او مرکز دے ـ دلته ترې مراد د يوسفزو ټوله خاوره ده ـ چې ډېره زرخېزه او ښائسته ده ـ اوبۀ ئې دومره خوږه ده ـ چې شاعر ئې په ښبنلو د خولې تناکې کېدو مبالغه کوي ـ ``کابل به رانه پاتې شي" کابل چې د يوسفزو پلارنے وطن دے، شړونکي يوسفزي ئې هېرولو ته بېخي تيار نۀ وو ـ دوي چې د سوات او نورو يوسفزو دا ښکلې سيمې اوليدې نو اوويرېدل، چې هسې نۀ د دوي په مينه کښې ترې کابل هېر شي ـ کابل ته د ستنېدو او دښمن د راپرځولو هڅه او ارمان ئې د دې سندرې په ګوړه ککړ کړو ـ خپل نوي کُهول ته ئې په ژبه کښېښوده، چې تر ننه پرې د يوسفزو ماشومانو خولې خوږې دي ـ

دغه رنګ يوسفزي ماشومان يوه بله فولکلوري سندره هم زمزمه کوي وائي:

زما يوه غوا وه
خټکو بوتله
چې زۀ زلمے شوم
ورپسې لاړم
ارې ارې شوم ، زيړې شوملې شوم، په دېوال توے شوم[8]

د ماشومانو په دې فولکلوري سندره کښې هم د يوسفزئ قبيلې يو ارمان خوندي دے ـ د خوشحال خان خټک کورنئ د خپلو نيکونو اکوړي اويحيی خان له وختونو د مغل په مرسته او لمسون د يوسفزو په سرونو، زمکو، څاروؤ او فصلونو تېرے کاوۀ ـ يوسفزئ قبيلې د خپلو مشرانو ګجو خان، باکو خان او نورو تر بېرغ لاندې د خپلې دفاع هلې ځلې کولې ـ يو وار شهباز خان يوسفزي له مصري باندې اوويستل او لوے لوے مشران ئې ورله مړۀ کړل ـ باکو خان په ځواب کښې د بولاق خټکو يو شمېر کلي اوسېځل ـ د شهباز خان او باکو خان په جهانګيره کښې نښته اوشوه ـ ملک چندڼ يوسفزے په کښې مړ شو ـ بيا درې مياشتې پس شهباز خان لښکر کشي اوکړه ـ او په مانېرئ ئې حمله اوکړه ـ په ۱۰۵۰ء کښې شهباز خان يو ځل بيا په اکازو بريد اوکړو او تالان ئې ګډ کړو ـ د دې پېښې ذکر تاريخ مرصع داسې کوي ـ

"په سن زر پنځوس د هجرت شهباز خان د لږ جميعت سره په اکازو چې تپه د کمالزيو ده، په مال ګذارئ کښې سستي اوکړه ـ سور شو ـ حکم ئې د تاخت د مال مويشي اوکړ ـ تر زرو زيات غوا مويشي په لاس راغلئ ـ"[9]

د دې پېښې په تناظر کښې دا سندره جوړه شوې ده ـ په دې سندره کښې د خټکو تېرے بد منل شوے دے ـ د خپلې غوا يعنې ژوند، مال، زمکه او څاروؤ زيان ئې ياد کړے دے او

زباد کړے دے - یوسفزے زلمے یعنې نسل په خپله دفاع بوخت دے او د خپل زیان تاوان د په ځاے کولو هڅې کوي - خو ګټه ئې په لاس ځکه نۀ ورځي چې خټک او مغل لاس ورکړي دي - یو پیاوړے څواک ئې جوړ کړے دے او د یوسفزي ورباندې هغه هومره زور نه رسي چې خپله تنې او پګړۍ ترې خوندي اوساتلے شي - د ماشومانو په دې ساده باده سندره کښې د یوسفزو د دغه نا رېژیدلي ارمان څرګندګي له ورایه محسوسېږي -

# حوالې


[۱] هېواد مل، زلمے، سر محقق، د پښتو اولسي ادبیات، پېښور، د سیاپي د موقوفاتو اداره، ۱۹۹۷ء، مخ ۳٦.

[۲] رفیع، حبیب الله، څو خبرې، سریزه، د پښتو اولسي ادبیات، پېښور، د ساپي د موقوفاتو اداره، ۱۹۹۷ء، مخ ۵

[۳] طائر، محمد نواز، روهي ادب، پېښور، پښتو اکېډېمي پېښور پوهنتون، اول ځل، ۱۹۷۷ء، مخ ۲۵۱

[٤] تږے، حبیب الله تعالی، پوهاند، دکتور، پښتانۀ، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، دویم ځل، ۲۰۰۳ء، مخ ۱۳۸.

[۵] همدغه ا ثر، مخ ۱٤۰.

[٦] الفنسټن، مونټ سټوارټ، د کابل د سلطنت بیان، ژباړه، پوهنوال ډاکټر محمد حسن کاکړ، کابل، دپښتو څېړنو بین المللي مرکز، د افغانستان د علومو اکاډېمي، دوېم ټوک، ۱۹۸۲ء، مخ ۰۹.

[۷] داؤد، داور خان، پښتو ټپه، پېښور، دوېم ځل، ۱۹۹۲ء، مخ ۳۳.

[۸] خټک راج ولي شاه، ډاکټر، د پښتو ادبي تحریکونه، پېښور، پښتو اکېډیمي، پېښور پوهنتون، ۱۹۸۹ء، مخ ۲۸.

[۹] پادري هیوز، کلید افغاني، لاهور، منشي ګلاب سنګهہ، دوېم چاپ، ۱۸۹۳ء، مخ ۲۳٦.